اوله ستن
د بودجې باوريتوب
Budget reliability

دوهمه ستن
د عامه تمويل روڼتيا
Transparency of public finances

دريمه ستن
د شتمنيو او قرضونو مديريت
Management of assets and liabilities

څلورمه ستند پاليسۍ په بنياد مالي ستراتيژي جوړونه او بوديجه
policy-based fiscal strategy and budgeting

پنځمه ستند بودجې
وړاندوينه او د بودجې د اجرا کنټرول
Predictability and control in budget execution

شپږمه ستن
محاسبه او راپور ورکونه
Accounting and reporting

اوومه ستن
باندنۍ کره کتنه او تفتيش
External scrutiny and audit

# پيفا ۲۰۱۶

## پيفا

پيفا د عامه مالي مديريت د ارزونې لپاره يوه ښه وسيله ده. د پيفا ارزونه د عامه مالي مديريت د اجراآتو يو هر اړخيزه، باوري او د شواهدو پر بنسټ ولاړ تحليل وړاندي کوي.
د پيفا ميتود د وخت په تيريدو سره په پرله پسې ارزونو کې تطبيق کېدلای شي ترڅو بدلونونه په ګوته کړي.
د پيفا کاري چوکاټ د لومړي ځل لپاره په ۲۰۰۵ ميلادي کال کې خپور شو خو په ۲۰۱۶ کې يې جامع او تازه بڼه خپره شوه.

### ۱
### د پايښت لرونکي پرمختيا موخو ته رسيدل اسانه کوي

پيفا د نړيوالو طرزالعملونو (کړنلارو) سره نوي او تازه معيارونه يو ځای کوي. پيفا د عامه مالي مديريت د اجراآتو د ارزونې او د پايښت لرونکي پرمختيا لپاره د عامه مالي مديريت د اهميت په هکله زيات معومات برابروي.

### ۲
### د شتمنيو او پورونو د مديريت د ارزيابۍ لپاره اوومه ستن وړاندي کوي

نوې اضافه شوې ستن د ښه پلان جوړونې، د عامه پانګونې پر مديريت او د شتمنيو او پورونو پر اهميت باندني تمرکز کوي.

### ۳
### د عامه مالي مديريت اضافه برخې تر پوښښ لاندې راولي

پيفا د عامه پانګونې او شتمنيو د مديريت، مالي وړاندوينې او د مالي ستراتيژۍ د ارزونې لپاره څلور نوي شاخصونه راپيژني. همدارنګه پيفا د خدماتو وړاندې کولو لپاره د اجراآتو معلومات خيړي، د عوايدو د مديريت ارزونه پراخوي او داخلي کنټرول ته اهميت ورکوي.

### ٤
### د دولت د عوايدو تحليل پياوړي کوي

پيفا خپل پوښښ پراخوي ترڅو دواړه ماليه لرونکي او غير ماليه لرونکي عوايد په کښې شامل شي. پيفا د ارزونې کچه زياتوي ترڅو د عوايدو په تشکيل کې بدلون او همدارنګه د عوايدو د وړاندوينې باوريتوب په نظر کې و نيول شي.

### ٥
### پر منځ مهاله پلان او بودجه جوړونې تمرکز زياتوي

پيفا د باوري او موثره منځ مهاله مالي پاليسۍ جوړولو لپاره پر مهمو او بنسټيزو واحدونو ټينګار کوي. پيفا د مالي وړاندوينو، منځ مهاله مالي ستراتيژۍ، په مصرفي بودجه جوړونه کې د مالي ستراتيژۍ کړنلاره او همدارنګه د بودجې د تخصيص سره د ستراتيژيک پلان تطابق څيړي.

### ٦
### پر روڼتيا او څرګندوالي زيات ټينګار کوي

پيفا مالي معلوماتو ته د عامه لاس رسي ملاتړ کوي. نوموړي مالي معلومات د بودجوي اسنادو او شواهدو، مالي راپورونو، مالي تګلارو او مالي خطرونو څخه عبارت دي.

### ٧
### د باندنۍ پرمختيا د ارزونې تاثير د سيستم د اجراآتو د شاخصونو سره يو ځای کوي

د عامه مالي مديريت پر پايلو باندې د تموليونکو د اجراآتو تاثير د نوو شاخصونو او يو متمرکزه راپور په وسيله ازمايل کيږي.

### ٨
### په کړنلارو او اصطلاحاتو کې ثبات زياتوي

پيفا د يو شاخص په سيټ کې د اجراآتو د اندازې او اهميت معلومولو لپاره د يو باوري کړنلارې څخه استفاده کړې ده، دا کار د يو رڼې او شفافي درجه بندۍ سبب کيږي. همدارنګه چيرې چې د تطبيق وړ وي د پيفا ځانګړې تعريفونه په هغه اصطلاحاتو تبديلوي کوم چې د IMF د مالي احصايې په لارښود کې کارول شوي دي.

### ٩
### د درجه بندۍ يو ډير ساده او سوچه سيستم پلي کوي

د "D" درجه ټولو هغو اجراآتو ته ورکول کيږي کوم چې د اجراآتو اساسي اندازې څخه کښته وي او د لوړې درجې د ورکولو لپاره په کافي اندازه معلومات وجود ونلري. همدارنګه د "NR (NOT RATED)" پر ځای د "D" درجه کارېږي کوم چې مخکې د يو شاخص په هکله د غير کافي معلوماتو لپاره کاريده.

### ۱۰
### د راپور ورکونې يوه ډيره اسانه بڼه رامنځ ته کوي

د پيفا په راپورونو کې د مهمو پايلو او لاسته راوړنو په هکله خلص معلومات راغونډ شوي دي. د پيفا د راپورونو نوی شکل د عملياتي محيط، د اجراآتو د ځانګړتياوو او د عامه مالي مديريت د پايلو يو ډير منطقي او روښانه بڼه وړاندي کوي. کاروونکي کولای شي چې د پيفا په راپورونو کې د اړتيا وړ مالومات په اسانۍ سره ترلاسه کړي.

د افغانستان اسلامي جمهوریت
د مالیې وزارت
د اجراآتو د سمون او عامه مالي ریفورم ریاست

PEFA
عامه لګښتونه او مالي
حساب ورکونه

# پیفا ۲۰۱۶

## ۱۰ هغه موارد چې باید پرې وپوهیږئ

د عامه مالي مدیریت سمون، د یو با ثباته پراختیا ښخه ملاتړ

# د پیفا مشرتابه

په ۲۰۰۱ م کال کې د عامه مصارفو او مالي حساب ورکوني (پیفا) پروګرام د اوو نړیوالو پرمختیا یي شریکانو له خوا پیل شو؛ د پیفا همکاران د اروپایي کمیسون، د پیسو نړیوال صندوق، نړیوال بانک، د فرانسې، ناروې، سویس او انګلستان له دولتونو څخه عبارت دي.

د پیفا شریکان په ګډه د همدې پروګرام موخې، وسعت، د پیفا محتویات او د هغوی د کاروني معیارونه ټاکي، ددې معیارونو د تطبیق لپاره اداري مرسته کوي او همدرانګه ددې پروګرام د فعالیتونو لپاره اړیني سرچینې برابروي. د پیفا پروګرام د یو تشکیل له خوا اداره او پلی کیږي، دا تشکیل د پیفا د رهبري کمیټې او د پیفا د دارالانشا څخه جوړ شوی دی.

**PEFA Partners**

**PEFA Secretariat**

1818 H Street NW
Washington DC 20433, USA

pefa.org
services@pefa.org